ليکونکي : فینین کونینګهام (Finian Cunningham)
منبع اودخپریدو نیټه : انفارمیشن کلیرنګ هوز (۲۰۱۵-۱-۳۱)
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# پانګوالی ځمکه اودځمکي خلک وژني

**Capitalism Killing Earth and Its People**

---

زه د سپوږمی راوتنه نن بد مرغه وینم .
زه په لاره کی ستونزی وینم.
زه ځمکه لرزیدنه او بریښنا (تندر) وینم.
زه ننی حالات سخت اوناسم وینم .

دجان فوګرتی (John Fogerty) شوم او د بد مرغه سپوږمی راختل تپي (لنډي) هغه کلاسیک آهنګ دی چی د کال (۱۹۶۰)څخه را په دی خوا دځنو اهنګ سازانواوموسیقی دانا نو پواسطه سره زمزمه کیږی چی دا پخپله په مینځنی غربی امریکا کی ممکن د پیښی درا پیښید و څخه له مخه د موسیقی د فلم یوه ګونګسی اووسیږی .
نن په اوکولا هما اودامریکی په مینځنی غربی ولایا تواوسیموکی ځمکه ښوید نه یا زلزلی په روتین بڼی سره هرورځ ترسترګو کیږی حال داچي په تیرووختونو کی خمکه ښوید نه قاعد تاُ د یوکال په موده کی دوه اویا څو ځلی را پیښید ل اما نن په دغه سیموکی د زلزله سنج درا پور پر اسا س دیوکال په موده کی له (۵۰۰) ځلی څخه زیات زلزله یا خمکه ښوید نه را پیښیږی . دغه شمیر زلزلی چندان ډیر شدید نه دی اود نوموړی زلزلو له جملی څخه دهغه یوڅه لوی ځمکی ښویدو د شد ت درجه د دری اود پنځو با لو ترمینځ ثبت شوی دی .
اما یواځی هغه موضوع کوم چی یوڅه دتشویش وړپه نظر راځی هغه دزلزلی څخه دمخه او وروسته دځمکی هغه شدید ټکانونه او متروکی دی کوم چی دهغه ځای میشته خلکو ته تشویش را پیدا کوی .
واشنګتن پوست په دغه راروان اونی کی دیو راپور په ترځ کی دهغه زلزلی دراپیښید و په اړه چی د یوکولوهما په ولایت کی واقع شو ، داسی څرګندونه وکړ چی دهغه سیمی ګڼ شمیر تعمیرونه دزلزلی د شد ت له امله ونړید ل ، اودهغه ځای د ډیری خلکو تپيا ن شول اویا یی دراپیښی شوی ځمکی ښویدو څخه واډار شول او حتی چی دهغه ځای یو شمیر خلکو دغه را پیښی شوی زلزله دخپل بدمرغی اخری پړاو ګڼل او ډیر واډارشول.

( اوس په دی سیمه او ولایت کی هره ورځ زلزله کیږی چی د همدی هره ورځنی زلزلی له امله دتعمیرونو دیوالونه چوی ، داشپزخانی کاشی اوخښتی له دیوالونو څخه را غورځی . ددوشنبی په ورځ دهغه دری ځلی سخت خمکه ښویدوڅخه هغه تخریبات چی په دغه تاریخی ښارکی راپیښه شواودهغه څخه هغه(۲۴) ساعته پرله پسی غړمبهار او ناری سوری چی تر غوږونو وشول داسی بریښید ل چی ته به وای د نیا ورانه شول دغه راپور د مونتوګومری (Lori Montgomery) پواسطه سره واشنګتن پوست ته سپارل شوی وه .

( وروسته له یو څه وخته تیریدو څخه تاسی نشواتګل کولی چی په دی خلکو باندی مخکی اووروسته له زلزلی څخه څه شوک او ډار به تیر شوی وی ؟ ) اوهغه داچی ځمکه په پرله پسی شکل سره ښوریدل داهغه څه وه چی د هغه ځای یو میشته سړی څرګند کړل اوداسی وویل «چی خلک په ډار اوپه تشویش سره هغه لمحی تیرکړل» .

دنفت اودګازو صنعتګران اوسوداګران د خپل نوی جیولوژیکی ما نوری او د خپل لرزونکی او قصدی ښویدونکی فعا لیتونو د ترمینځ له اړیکو څخه انکا ر کوی، دیا ده باید ونه باسو اوهغه داچی دپانګوالی منابع هیڅکله دداډ وړ منابع نه دی ا و دهغو په څرګندونو باندی باید هیڅکله باور ونه شی . هغوی داسی ادعا کوی چی دمینځنی غربی امریکی په ساحو کی ځنی زلزله سنجونکی داسی ګذارشات اوڅرګندونه کوی چی دغه ځمکنی تکانونه د هغه ځای دزلزلو سره جوخته طبعی او نورمال خمکنی خوځیښتو نه دی چی را پیښږی اودا دکوم تشویش وړموضوع نه دی . حال داچی دغه ادعا د هغه میلیونوخلکو کوم چی په ګن اوپه پرنفوسو ښارونو کی ژوند کوی ارام بخش اوهوساینه نه ګڼل کیږی اوداځکه چی هغوی دخپل په پور سره دنیولوکورونو دړنګید واو همداراز دخپل کاردمحل څخه چی دهغه ځای په لوړپوړو تعمیرونو کی دی په ډار اوتشویش کی سره ولویږی .

په هرصورت دغه پورتنی یادونی د صنعتی پانګوالو اودهغه د بډی اخیستونکو سیاساتوالو دڅرګندونو څخه څه مهم موضوع نه ګڼل کیږی اوهغه داچی دوی د نوموړی موضوع په هکله داسی وایي : دلته دهیڅ شک اوګمان ځای نه لیدل کیږی چی دځمکی ډیر چټک تکانونه او خوځښتونه دجوړونکی مخکی تللی تخنیکی هایدرولیکی فعالیتونو له امله کوم چی دخاورینی تیږی طبقی چوی اویا ترځمکی لاندی دژوروڅاګانو دکیند لو له امله دطبعی ګاز اود نفت د زیرمی دلټولوپه پایله کی راوچته شی (حال داچی دځمکی همدغه سر په سر تکا نونه د هایدرولیکی تخنیکی فعالیتونو پا یلی دی کوم چی صنعتی پانګوالانودنفت او ګاز درا ایستلو په لټه کی په مشتاقانه بڼی سره په هڅه اواند کی دی )

ترځمکی لاندی تر (۱۰۰۰۰ فټه = یا(3km) دژورو څاګانو کیندل ددی سبب کیږی چی په خمکه کی تثقبات (سوری) راولی او هم که چیری ما یعا ت په ډیر لوړ فشا ر

سره ترځمکې لاندې داخل کړ شي نو په نتيجه کې په سلګونو عضوي کيما وي مواد دهايدروليتيک فرکشن (يوډول تخنيکي عمل دی چې دهغه پواسطه سره ترخمکې لاندې دتيړو طبقې داوبو دلوړفشار په واردولو سره ماتوي اوپه دې ډول اومه نفت اوګاز تر لاسه کول دي ) سره مخامخ کيږي اودځمکې ترلاندې دتيږو د منفذ ونو يا درزونو څخه اومه نفت اوګاز ترلاسه کيږي .هايدروکاربن او دهغه سره ګټې ممکن دی چې دامريکايي صنعتګرانو دپاره احساس پارونکې موضوع وي حال داچې دغه سيستم د بشريت د زغم اود چا پيرياړ د سبسيدي (subsidizing ) او د دروند لګښتونو او ناغو ښتلي نقصا ن اوخساري سره ترسره کيږي .

فرکنګ يا په لوړ فشارسره تر ځمکې لاندې داوبو يا دمايعاتو داخلول اوس دامريکايي دتيلو اودګاز د صنعتګرانو اوسوداګرانو دپاره په يوه زرخيزطرح اوپروګرام باندې بد له شوی کوم چې دهمدغې طرح پواسطه سره غواړي هومره ګټې تر لاسه کړي چې خپل دريدلی اقتصاد ته نوی ژوند ورو بخښي ، دامريکې متحده ايالات کوم چې په عملي بڼې سره د نړی د رهبري اود مشرتوب ادعا کوي نو دهمدې دليل په نظرکې نيولوسره غواړي چې دنفت اود ګا ز صنعت ته نوی رنګ ورکړي اود سرمايه داري دريد لی اقتصاد ته د تبليغ دلاري وده ورکړي اوپه ستراتيژيکي بڼې سره دامريکې قدرت په نړۍ کې اوچت کړي .

په اوکراين کې روان بحران کيدای شي چې ديو بيلګې په بڼه په نظرکې ونيول شي ، کوم چې دا پخپله په وړاندېز بڼې سره دامريکې دمتحده ايالاتو دخودخواهي هغه روښانه بيلګه دی چې غواړي روسيه کوم چې داروپا د انرژی د سمبا لولو اوچمتو کولو د پاره يوستر چمتو کونکې هيواد دی هغه بيځا يه کړي يعنې داروپا اودروسي دګاز اودانرژي دراکړي ورکړي معاملې ته د پای ټکی کيږدي نوپه دی د ليل فرکينګ (Fracking) دامريکې دمتحده ايالاتو دنړيوال خودخواهي اودجاه طلبې ديو جام بڼه غوره کړی دی.

اما سره ددې ښه طرحي او پروګرامونو بياهم دلته يو ډير غټ خنډ ترسترګو کيږي يعنې يو ريښتينی وژونکې خنډ اوهغه په دې مفهوم چې دهمدې هيدروليتکي فعاليتونو په ترسره کولوسره نه يوازې داچې په متحده ايالاتوکې دهيدروليتکي درزونه يا شکستګی (Fracture) پراخيږي يا زياتيږي بلکه دهمدې ډول کړنو په نتيجه کې دترخمکې لاندې اوبه د کيماوي موادو په راوتلو اوداوبو سره په مخلوط کيدو ملوث کيږي اوهغه داچې تقريباً تر (۶۰۰)ډول کيماوي موادهيدرولتيکي فعاليتونو په اثر رامينځته کيږي خصوصاً سيماب او ايتينول ګلايکول (mercury, ethanol glycol) کوم چې کا نسروجينيک مواد دي چې داوبو په ملوث کيدو سره د خلکو ستونزې لاپسې زياتيږي او د سرطانی ناروغيو کچه لا پسې پورته ځي لکه چې همدا اوس په متحده ايالاتو کې د سرطا نی ناروغيو وقوعات نظر بل هر ځای ته زيات دی .

هسی لکه چی اوس دنقت او د گاز وړی سترگی پانگوال صنعتگران په میلینونو بیلر کیماوی مواد لرونکی مایعات په فشارسره تر ځمکی لاندی پمپ کوی ، نودهغه په بد له کی غواړی چی په مسا وی شمیر بیرل سره گاز او نفت لرونکی مایعات ترلاسه کړی.
نو په دی توگه سره دغه راوتلی کیماوی مواد د خوړی تازه اوبو په لور نفوذ کوی او په پایله کی دڅښلو صحی اوبه ملوث کیدو سره د مختلفو ناروغیو د وقوعاتو زمینه مساعد کیږی . همدارنگه دمیتان طبعی گاز د فرکینگ (هیدرولیکی شکستگی ) په جریان کی آزادیږی کوم چی هیڅکله اویا دتل دپاره دصنعتگرانو پواسطه سره نه ترلاسه کیږی بلکه دغه گاز دځنو نا رابلل شوی درزونو څخه آزادیږی اوپه پای کی دکورنیو دڅښاک اوبوته لاره پیداکوی اوپه دی شان سره دامریکی د متحده ایالاتو په ځنو برخو اوبیا په ځانگړی بڼی سره دامریکی په مینځنی غربی ایالاتو کی د کورنیو دپخلنځی د نل په اوبو کی داوبو سره دمیتا ن گاز یوځای وی چی په آسانی سره دمشتعل کیدو وصف لری یا په بل عبارت اوبه او اورسره گډ دنل په اوبو کی موجود وی .
درارسید لی احصایو له مخی اوس داسی څرگند شوی چی دامریکی د متحده ایالاتو په یوشمیر ایالاتو لکه په مینځنی غربی ایا لتونو(اوکولا هما، تکساس، اوهایو اوارکانساس ) ددی ډول کیندل شوی څاگانوشمیر تر (۵۰۰۰۰۰) پوری رسیدلی کوم چی د گاز اودنفت د سوداگرانو اود پانگوالو د زیات گټی او د دند و د ترلاسه کولو د خوشحالی زمینه تر لاسه شوی دی ، اما دغه بی حد زیا ت سود اوگټی د دی سبب شوی چی د هغه ځای انسا نا نو او دهغو چاپیریال ته ستر تاوان ورسوی یعنی چی دهغوی د ژوند محیط ملوث اوغیر انسانی گرځول کیږی ! او اوس تقریباً په میلینونو ا نسا نا نو په دغه لرزونکی کورونو کی ژوند کوی چی دهغو ژوند ته تاوان رسوی اوتول په ویره کی دی چی څه به راپیښیږی .
دا دی دستا سو د سرمایه داری سوغات ،هغه سوغات چی دغه پانگوالان بی ددی چی دخلکو ژوند ته پام ولری د خپلو گټو دترلاسه کولو دپاره په دی ډول فعالیتونو لاس پوری کوی اوخپل ما لی سرمایه لاپسی زیا توی او پرنورو تپولو اند یښنو او دخلکو پر انسا نی نظریا تو با ندی پښه ایږدی یا هغه ته هیڅ پام نه اړوی ، خلک اواوبو مسمومی ځمکه تخریبوی او دایکو طبعی سیستم ته ستر تاوان رسوی هغوی ته یوازی گټه ډیر اهمیت لری اونور هغه چاری چی د خلکو په گټه وی د دوی په نظر ډیر بی اهمیت ښکاری .
د را رسیدلی را پوروتو په نظر کی نیولوو سره پروسږکا ل د اوکلاهما ولایت له (۵۰۰) ځلی ځحه زیات دزلزلی ټکانونوسره مخامخ شو، په کال (۱۹۳۰) کی سوررنگ خاورین دوړی یوه بله ناورین وه چی پرمخکینی ستونزو باندی اضا فه شول کوم چی دهغه سبب یوه بله ایکولوژیکی بحران وه چی هغه د( د دوړی د کا سی دعصر) په نوم سره ونومول شو چی دهغه په ترڅ کی په میلونونو کورنیو بیخکن ، محروم اوله

*خپلو کورونو څخه بی ځای شول ، اوله بلی خوا څخه د دغه بی ځا یه شوی کورنیو بل رغنده فکتوردزراعتی فارمونو دفعالیتونوله امله وه کوم چی دکیمیاوی موادو دپکاروړلو سره دهغه منطقی خاوره ملوث ګرخول شوی وه ، اوخلک مجبور شول چی خپل هستوګنځی خوشی کړی او دغه فارمونه دپاګل شوی یا مفلس شوی خلکوڅخه زراعتی با نکونه په جبر سره ترلاسه کړی وه او نوموړی بانکونه دخپل ګټو دترلاسه کولو په منظور د خلکو په وړاندی دهیح ډول مسولیت احساس ونه کړل اودهغه منطقی فضا اوهوا یی په دوړو سره وپوښول چی دغه ټول پورتنی ذکرشوی ناورین دسرمایه داری د ګټو دترلاسه کولو پایلی ګڼل کیږی .*

*په کال (۱۹۳۹) کی ښاغلی جان شتاین بیک (John Steinbeck) پخپل یو کلاسیک ناول کی داوکلاهما درنځیولو خلکو په اړه کوم چی دپانګوالانو دظلم اوناروا څخه دی ته اړ کیږی چی دبزګرانو په صفت کلوفورنیا ته مهاجرت وکړی لیکی : دغه بی وځلی ،پاګل شوی ، په رنځ اخته اودمرګ وژوند سره لاس په ګریوان په یوه له خشونته ډک طا قت فرسا حالاتو کی څرنګه خپل کورونه پریږدی او کلوفورنیا ته مهاجرکیږی .*

***دهغه وخته څخه تر اوسه اته لسیزی تیرشو اما لا تراوسه دامریکی خلکو ونه پوهیدل چی سرما یه داری اوپانګوالو وار په وارسره هم خمکه وژنی اوهم خپل خلک وژني !***

***د دغه غیرمنطقی ، وحشیانه او له فجا یعو ډک سیستم څخه به کله خلاصیږو ؟ مخکی له دی چی مونږ دغه سیستم له مینځه ویسو کوم چی دغه سیستم مونږه له مینځه ویی نیسی؟***

*دلته یواخي نفت اوګاز اوکرهڼه دبحث موضوع نه دی بلکه سرمایه داری دامپریالیزم استاذی او وکیل دی کوم چی همدغه امپریالزم دخپل موکلینو ترمینځ جنګ او شخړی ته لمن وهی ،اوس هرچاته لکه دلمردوړانګی په څیر روښا نه دی چی داوکراین دغه ساختګی بحران کوم چی دروسی سره رامینځته شوی دی پخپله د امپریالیزم او د هغه دتابع شوی اروپایی دولتونو مستقیم لاس وهنه دی چی په پای کی به دامریکی د متحده ایالاتو دغه غیر منطقی ، ناسنجول شوی عمل او کړنه به په نړی کی دهستوی جګړی دپاره به لاره اواره کړی یعنی همغه امپریالیزم چی په غیر منطقی ښی سره په کال (۱۹۴۵) کی دجاپان په هیروشیمیا او نګا ساکی ښارونوکی اتومی بمونه وغورځول اوهغه ښارونه دخا وری سره خا وری کړل چی ټولو ته معلوم دی .*

*د شرقی اوکراین دلاندی کولو یا د فتح کولو اصلی دلیل دادی چی په نوبوروسیا (Novorossiya) کی دبوریسما (Burisma) کمپنی اود هغه د هییات مدیره دغړو په شمول د هونتر بایدن (Hunter Biden) د جوبایدن (Joe Biden) ځوی دامریکی د متحده ایالاتو د جمهورریس معاون دتیلو اود نفت پرزیرموباندی د لاس رسی موضوع*

*دی .*

*لذل اوس تاسی په رنو سترګو دلته یو بشپړ اوکامل سره ترلی حلقه ګوری چی خلک دکور په دننه اودکورڅخه دباندی په نړی کی دخپلو ګټو دپاره او هغه هم د یوه توته رنګه کاغذ دترلاسه کولو په منظور وژنی هغه توته کاغذ کوم چی ډالر نومیږی اوکیدای شی چی بشریت بی ددغه رنګه کاغذ څخه هم ښه ژوند وکړی اوښی چا ری ترسره کړی .*

***ددی مقالی دلیکونکی په اړه لنډه یادونه :« فیننین کومینګاهم» په کا ل (۱۹۶۳) کی زیږیدلی ،هغه د بین المللی پر مسایلو باندی زیاتی لیکنی کړی دی او دهغه مقالی په ځو ژبو سره په نشر رسیدلی ، هغه د کیمیا وی زراعتی په څا نګه کی د ماستری سند لری اوهغه د کمبرج د کیماوی سلطنتی انجمن ته زیا ت علمی اوتحقیقی مقا لی مخکی له دی چی دورځپانو دپاره ژورنالیستیکی دندی ترسره کړی لیکلی دی .***

**------------------------------------------------ په درناوی**